# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدين بوم و بر زنده يک تن مــــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهيم　　از آن به که کشور به دشمن دهيم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



انجنير سيد عبدالقادر


۳۰ اپریل ۲۰۱۴

## ټولټاکني که داستعماري اشغال پنځم پړاو

ــ لومړي برخه : دټولټاکنو لوبو ته يوه لنډه کتنه:

ــ دوهمه برخه: د امنيتي تړون دلاس ليک په اړوند دنوماندو بي له شرطه وعدي :

ــ دريمه برخه : داشغالي ځواکونو احتمالي ستنيدل :



دغربي استعمار او جهادي غلو دجنایاتویوه بیلګه　ــ دامریکایي استعمار اړتیا او ټو لټاکني يي ــ　په امريکايي اشغال کي هيروئينو اخته افغان ماشومان ــ

لومړي برخه : هغه لوبه چی دامریکا اوغربي نړي د اړتیا له مخي دټولټاکنو تر نامه لاندي دځو میاشتوراهیسي شروع سوي وه ، دوري پر ۱۶ نيټه په داسي حال کي يی لومړي پړاوپاي ته ورسيدي، چی دتبليغاتي کمپاين له پاره سلګونه ميليونه ډالره ولګيدل ۰ چی اصلي مخه يي زمونږ دهيواد دواقعيتونو څخه دافغان اونړي دولسونو ليري ساتل وه ۰ نو ددې لوبي له پاره نه يوازي غربي رسنيو بلکه کورنيو رسنيو هم دملي ګټو سره په تقابل کي زمونږ دولس څخه نه يوازي اصلي لاره بلکه د ټولټاکنو دورځي دپيښودځرګندونو ډيره فيصدي هم پټه وساتله ۰ غربي او کورنيو رسنيو ددې لوبي په هکله داسي څه ليکل او تبليغول ، چی ګواکي دا هيواد آزاد ، مستقل ، با امنه ، ولس واک ، او ريښتينه ډموکراسي پکښي شتون لري ، او دالوبه يي دډموکراسي يوه ښه بيلګه بلله ۰ متأسفانه داشغال په اوسني حالت کي افغان جمعي تبليغاتي رسنی ، ځيني په پټه او ځيني ببا په يوه او بله بهانه دبهرنيو استخباراتو له خوا څخه تمويليږي ۰ ځکه نو افغاني رسني دغربي نړي درسنيو د هغه تبليغاتي فرهنګ څخه کار اخلي ، کوم چی دولسونو پر ضد داستعماري او نامشروع حاکميتونو د ګټو منعکس کوونکي دي ۰ دبيلګي په ډول دټولټاکنو په دې لوبه کي افغاني رسنيو داستعماري واکمنانوهغه ځرګندوني ، چی دټولټاکنود لوبي په هکله يي کولي ، کټ مټ دوي په خپلو رسنيو کي هم انعکاس ورکاوه ۰ او دارنګه ځينو دحاکميت سره هم ګټو افغانانود سياسي شنونکو تر نامه لاندي پر تلويزوني صفحو باندي هم داسی دحيرانتيا څخه ډکي ځرګندوني کولي ،او ويل به يي : چی افغان ولس ته يو تاريخي فرصت

په لاس ورغلي ، چی هغه پس له ۱۲ کلونو څخه په مسالمت آمیزه توګه دیوه شخص څخه بل شخص ته دسیاسي قدرت لیږدونه ده ، چی په دې کي افغان ولس باید خپل رول په پوره توګه ولوبوي ٠دوي دادشرمه ډکي څرګندوني په داسي حال کي کولي چی زموږ هیواد د۱۳ کلونو راهیسي دامریکا تر استعماري ولکي لاندي راغلي دي ٠ او په ښکاره ډول دوي پر دي واقعیت باندي دخپلو شخصي ګټو له پاره سترګي پټولي ٠ باید وویل سي چی په لاس پوځي رژیمونو کي ، دپاچاهي پرتخت باندي دهر نوي حاکم کښینول ، دولس د اړتیا له مخي نه ، بلکه داشغالګرو داړتیا له مخي تر سره کیږي ٠ ځکه نو په داسي رژیمونو کي لاس پوځي نه سي کولاي چی دخپلي هیلي سره په خپل زوردحاکمیت پر چوکي باندي پاته سي ٠

او هم دارنګه تر ټولټاکنو تر مخه هم داسي وړاند ویني کید لي ، چی رژیم به د خپلي بقا او غربي نړي دګټو له پاره دخلګو اراده تحریفوي ، او په رسنیو کي به دخلګو دګډون کچه لوړه ښکاره کوي ٠ که په رشتیا سره نیژي اوه میلیونو افغانانو خپله رایه کارولي وي ، نو بیاولي په ولایتونو کي په دغه ورځ خلګو خپل نورمال کارونه نسواي تر سره کولاي ٠ او حاکمیت هم په خپلو تصویري رسنیو کي په ښارونو کي دخلګو نورمال ژوند ونه کړایسواي چی ښکاره یي کړي ٠ یوازي یي د ټولټاکنو دهغو مرکزونو انعکاس خپراوه ، کوم چی تر امنیت لاندي دخلګو درایي اچوني لیکي ښکاره کیدلي ٠ دبیلګي په توګه دکندهارپه ښارکي په عادي ورځو کي خلګ دشمیر دډیروالي له کبله پر لارو باندي په مشکله باندي تګ اوراتګ کوي ، دټولټاکنو په ورځ دبي بي سي دخبریال له قوله دکندهار پرقیرسړکونو باندي ماشومانو فوټبال کاوه ٠ دانو دکوم حقیقت ښکارندویي کوي ٠ دبي امنیوتر څنګ چی وسله وال مقاومت دملي دفاع دوزارت دڅرګندونو له مخي ( ۶۹۰ ) حملي په دغه ورځ ترسره کړي دي ٠ او په لس ګونو امنیتي او ملکي کسانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ ٠ ښکاره خبره دا ده، چی ولس په دې ورځ خپل انتخاب هم نه درلودي ٠ د اشغال تر څنګ دنوماندو ګروپونه داسي جوړ سوي وه ، چی یانوماند لوي بشري او اقتصا دي جنایتکار وو ، او یایي معاونین ، اویاهم نوماند اومعاونین یي دواړه بشري او اقتصادي جنایتکاران وه ٠ چی ولس یي په تیرو دولسو کلونو کي دنړیوالو څخه دمحکمي غوښتنه کړي وه ٠ ځکه نو ولس ددوي په وړاندي ښه قضاوت وکړ ، او دایي دځان له پاره ښه و بلل ، چی په خپلو کورونو کي کښیني ٠ ولس تر ټاکنو مخکي هم داسي ویل ، چی داشغالګرو او لاس پوځي حاکمیت کومي ښي ګټي موږ و مخ ته کښیږدو ، چی دهغو په لیدو او احساس سره بیا دټولټاکنودمرکزونو پرلار ورروان سو ٠ځکه نو دامنیتي کسانو په شمول دادزرګونو کسانو لیکي نه سي کیدلاي چی دمیلیونونو افغانانواستازیتوب وکړي ٠ولس په دي نظر دي چی ددې ټولټاکنو دلوبي په پایله کي چی امریکا هر څوک ټاکي ، ددې وڅنګ ته چی په وطن کي به جګړه زوراخلي ، دملي شتمنیو د چور لړي به بیا هم دبهرنیو او کورنیو جهادي او تیکنوکراتي غلو له خوا په ډیره بیړه مخ ته ځی ، د بي ګناه ولس پرکورونو او پټیو باندي به اشغالګر ځواکونه دترویزم دمنځه تلو تر نامه لاندي به خپل بمباردونو ته ادامه ورکوي ، ماشومان ، ښځي ، زاړه او ځوانان به په شهادت رسوي ، یو شمیر ځوانان به خپلو شخصي بند یخانو کي دنامعلوم وخت له پاره تر شکنجو لاندی ساتي ، او هم دارنګه دتیرو دولسو کلونو په څیرپه ځینو محلاتو کي دکورونو دتلاښیو پروخت دجنسي تیریو تر څنګ یو شمیر ښځي به دځانه سره هم وړي ، دولت اورسني به خپله چپتیا اختیاروي ٠ ځکه نو داسي ټولټاکني افغان ولس ته کومه صلح نه سي راوستلاي ، یوازني لاره هغه سیاسي حل دي ، چی دجګړی د دواړو اړخونو په ګډون دملګرو ملتونو تر مشري لاندي داسي یو نړیوال کنفرانس جوړ سي ، چی په ولس کي قبول سوي شخصیتونه او یو شمیر په وطن او بهر کي دولس دګټو سره شریک مستقل سیاسي کارپوهان هم ګډون پکښي وکړي ٠ چی دکنفرانس په پایله کي ، دافغان ملي ګټو په نظر کي نیولو سره یوه لنډ مهاله اداره رامنځ ته سي ٠ د کنفرانس د میکانیزم او لنډ

مهالي اداري دعمومی دندو په هکله ما خپل نظر په تیرو ځینو لیکنو کي په لنډه توګه لیکلي او نشر کړي دي ۰

تمت باالخیر

دښاغلو ویب پاڼو دچلوونکو څخه ، هیله مند یم چی دغه لیکنه دعکسونه سره یوځاي نشرته وسپاري په احترام ۰

۲۹ ــ ۴ ــ ۲۰۱۴